# د (E) برخه : د خاوی د ساینس بنسټیزه اصول

## شپږم لوست: د خاورې د بنیرازوالی د راتیتیدلو پیژندنه

## Soil Degradation

# مهم اصطلاح ګانی

- **Desertification**
صحرايي کيدنه، کرهنيزه ځمکه په ډاګ باندي بدليدل
- **Natural erosion** طبيعي احتکال او توږنه .
- Salinization د ځمکي مالګينه کيدل.
- **Soil degradation** دخاوري د ښيرازوالي راټيټيدل او انحطاط.
- **Soil erosion** دخاوري ښويدنه او احتکال د باد او اوبو په وسيله سره.
- Accelerated erosion
د خاوري هغه ښويدنه او احتکال چي د انسانانو د کړنو په پايله کي مينځ ته راځي.
- Alkalization په خاوره کي د القلي ډيريدنه.
- Compaction د خاوري کلکيدنه او فشرده کيدنه
- Construction په ځمکه کي د وداني کارونه
- Contamination د خاوري او ځمکي ککړتيا.

# د خاوری د ښیرازوالی ټیټیدل څه شی دی . تشریح یی کړئ ؟

- د خاوری د ښیرازوالی ټیټیدل یا Soil Degradation د خاوری د کیفیت او ګټورتوب له ښکته کیدلو څخه عبارت دی
- د خاوری د ښیرازوالی د ټیټدو لامل او علت دخلکو د پوهی د کچی ټیټوالی د خاوری او دهغو کړنو په هکله دی چی خلک یی د خاوری پر مخ ترسره کوی

# د خاورې د ښیرازوالی تیټیدل څه شی دی تشریح کړی؟

- د خاورې د ښیرازوالی د راټیټیدو مخنیوی د ژوند د ښه چاپیریال ساتلو لپاره ډیر اهمیت لري.
- دخاورې د ښیرازوالی انحطاط د لاندی فکټورونو او عواملو څخه سرچینه نیسی:
  - Construction ساختمانی کارونه
  - Contamination ککړتیا او ملوثتوب
  - Erosion د اوبو او خاورې په وسیله سره د خاورې ښویدنه او حرکت.

# ساختمانی کارونه د ځمکی د حاصلخیزی په راټیټیدو باندی څنګه تاثیر کولای شی؟

- ساختمانی کارونه د لاندی ودانیو او ساختمانونو په جوړولو سره ځمکی ته بدلون ورکوی:
  - سړکونه
  - کورنه
  - دفترونه
  - فابريکي
  - او داسی نور جوړښتونه او ساختمانونه

# Soil Degradation / ساختمانی کارونه

- ساختمانی کارونه د خاوری د بنیرازوالی د انحطاط لامل ګرځی دا ځکه چی ساختمانونه او ودانی د کرهنیزو ځمکو او خارو ځای نیسی او د نباتاتو او څارویو د تولید مخنیوی کوی.

# Soil Degradation / ساختمانی کارونه

- ساختمانی کارونه په ځانګړی توګه هغه وخت د خاوری د ښیرازوالی د راټیټیدو لامل ګرځی چی شنه واښه او طبیعی ونی له مینځه ولاړی شی.
- دغه عمل ددی لامل ګرځی چی خاوره د ښویدنی او مینځلو په وړاندی له خونیدیتوب څخه برخمنه نه وی.

# Soil Degradation / ساختمانی کارونه

- ستر او لوی سامان آلاتونه کولای شی د خاوری مخی ( topsoil) ته حرکت ورکړی او د خاوری لاندی (subsoil) برخه رالوڅه کړی.
- د ځمکی په ډیره اندازه سره ژوورول ددی لامل کیږی چی د خاوری لاندی برخه او مواد د ځمکی مخی ته راشی.
- کله چی دا مواد د ځمکی پر مخ تیت شی نو دا کړنه پخپل نوبت سره ددی لامل کیږی چی د خاوری ښیرازوالی راټیټ کړی.

د ککړتیا (Contamination) د سرچینو په ګوته کول او د هغوی اغیزه د خاورې د بنیرازوالی په ټیټیدو باندی.

- په څمکه کی ککړتیا هغه وخت مینځ ته راځی چی په څمکه کی د کیمیاوی توکیو، تیلو او داسی نورو موادو نفوذ ترسره شی.

# Soil Degradation / ککړتیا

- ځینی ککړ مواد او توکي خاوری ته ننوځی او ددی لامل کیږی چی د خاوری حمایت او مرسته د نبات د ودی او پرمختیا لپاره کمه کړی.
- ځینی نور توکي او مواد بیا له خاوری څخه عبور کوی او تر ځمکی لاندی اوبه ته لاره پیدا کوی.
- چی دا کار ددی لامل ګرځی تر څو د ځمکی لاندی اوبه ککړی شی.

# Soil Degradation / ککړتیا

- هغه ځمکه چی مخکی د فضولاتو، معادنو او فابریکو لپاره کاریدله، کیدای شی بیا احیا او پاکه شی .
- دغه کار داسی کیږی چی ککړی او ملوثی خاوری د پاکی خاوری په وسیله سره پټیږی.
- چی دا کړنه او اوښتون د ډیرلګښت غوښتنه کوی.

# Soil Degradation / ککړتیا

- خاوره کیدای شی چی د لاندنیو کرهنیزو میتودنو څخه د کار اخستلو په نتیجه کی ککړه شی:

- د سری یا کود له بی حده اندازی څخه کار اخستنه.
- د کیمیاوی موادو او توکیو له بی حده اندازی څخه کار اخستنه.
- په هغه اوبو باندی خړوبونه کومی چی مالګه لری.

# د خاورې ښویدنه soil erosion څه شی ده او د هغې ونډه د خاورې د ښیرازوالی په راټیټیدو کې له کومه قراره ده؟

- د خاورې ښویدنه یا( soil erosion) هغه اوښتون یا پروسه ده چې خاوره حرکت او ښویدنه کوی

# دخاوری ښویدنه او حرکت

**طبیعی لاملونه او اسباب:**

- طبیعی ښویدنه دځمکی بڼی او شکل ته بدلون ورکوی، غرونه تاووی او وادیانی ډکوی او کیدای شی چی نوی ښیرازی ځمکی را مینځ ته کړی.
  - یوه ښه بیلګه یی د مسسیسپی سند ډلتا ده.

# حرکت او ښویدنه دخاورې

**انسانی کړنی او عملکردونه:**

- هغه فعالیتونه لکه ساختمانی کارونه او قلبه کول کولای شی چټکه ښویدنه را مینځ ته کړی او د خاورې مخه تر ډیرې اندازې پورې له مینځه وړی.
- په ډیرو ځایونو کی خاوره ددی پر ځای چی جوړه شی له مینځه ځی.
- دغه کار ددی لامل کیږی چی د خاورې **ښیرازوالی** او **کښورتوب** له مینځه ولاړ شی.

## له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکتورونه کولای شی د خاوری ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- د خړوبونی نا سمه کارونه
- دنباتاتو کرهنه بی له دی چی اړین غذایی توکی ورته ځای پر ځای شی.
- دغه خاوری د غذایی توکیو سرچینی دی.
- کله چی ښیرازوالی کمیږی، د خاوری عضوی مواد له مینځه ځی او د خاوری جوړښت زوال کوی.
- د خاوری کلکیدنه.

# له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکتورونه کولای شی د خاورې ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- د خړوبونی نا سمه کارونه،کوم چی خاوره مالګینه اوالقلی کوی.
- مالګینه کیدل (salinization) د قابل حل مالګی د تولیدنی څخه عبارت ده.
- القلی کیدنه (alkalization) د عوض کیدونکی سوډیم له تولیدنی څخه عبارت دی.
- دغه دواړه د نبات د غټیدنی لپاره زیان رسوونکی دی.

## له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکټورونه کولای شی د خاوری ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- د نباتاتو کرهنه بی له دی چی غذایی توکی او عضوی مواد یی عوض شی.
- دغه خاوری د غذایی توکیو سرچینی دی.
- کله چی ښیرازوالی کمیږی، د خاوری عضوی مواد له مینځه ځی او د خاوری جوړښت زوال کوی.

## له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکتورونه کولای شی د خاورې ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- د خاورې ککړتیا د کیمیاوی صنعت د فضولاتو، د انسانو د فضولاتو، د څارویو د فضولاتو د ناسمی اداری.
- د سترو اوسپنیزو، مالګنیو او کیمیاوی توکیو تولیدنه کولای شی خاوره غیر محفوظه کړی.

## له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکتورونه کولای شی د خاوری ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- له واشیانه او مالچر څخه ډیره استفاده اخستل، د ځنګلونو قطع کول او نوری داسی کړنی د ګټورو نباتاتو پوښښ له مینځه وړی او داسی یو حالت مینځ ته راوړی چی د صحرایی کولو یا desertification په نوم باندی یادیږی.
- دغه عمل پداسی ځایونو کی چی د اورښت اندازه کمه وی مینځ ته راځی د ګیاهی خاوری محتویات او ښیرازوالی ټیټیږی.
- د خاوری مخه او سطحه د ښویدنی تر ګواښ لاندی راځی.

## له ساختمانی کارونو، ککړتیا او ښویدنی ورهغه خوا نور کوم عوامل او فکټورونه کولای شی د خاوری ښیرازوالی راټیټ کړی؟

- (Compaction) د خاوری د ذراتو یو له بل سره کلکول او فشرده کول وروسته له ډیرو کرهنیزو کلنو څخه د سترو ماشینونو په وسیله.
- سره دغه کار دخاوری جوړښت تجزیه کوی.
- د نبات پرمختیا کمیږی، عضوی مواد کمیږی، د خاوری د نفوذ مننی ځانګړتیا له مینځه ځی، داوبو ځغلییدنه ډیریږی.

# بیا کتنه او لنډیز

- د خاورې انحطاط او راتیټیدنه بیان کړئ.
- ساختماني کارونه څنګه کولای شي د خاورې د ښیرازوالی د راتیټیدو لامل شي؟
- د ککړتیا سرچینې په ګوته کړې او وویاست چې ککړتیا څنګه کولای شي چې د خاورې د ښیرازوالي په انحطاط او راتیټیدو کې ونډه واخلي؟
- د خاورې ښویدنه بیان کړې او وویاست چې د خاورې ښویدنه حرکت او انتقال څنګه کولای شي دخاورې د ښیرازوالي په راټیټیدو ونډه واخلي؟
- داسې نور عوامل او سرچینې په ګوتو کړې کومې چې د خاورې د ښیرازوالي د راتیټیدو لامل کیدای شي.